ډاکتر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۵/۰۸/۲۸

# سیاسي او تأریخي
# د افغانستان بایوګرافیکي
# قاموس
(۸۰ برخه)

## محمد یعقوب خان

سردار. د افغانستان امیر. په ۱۸۴۹ز کال کې زیږېدلی دئ. د امیر شیر علیخان زوی. ددهٔ مور د لالپوري د خان په قوم مهمند د سعادت خان لور وو (وګوری : د لالپوري اکبر خان). د ۱۹۶۳ز کال د جون د میاشتي په نهمي نېټي په هرات کي د امیر دوست محمد خان له وفات وروسته شیرعلي خان، یعقوب خان ته د هرات د ولایت مسؤولیت وسپارهٔ ، امیر دوست محمد خان ددي ولایت مسؤولیت شیرعلي ته ورسپارلی وو. د ۱۸۶۶ز کال د جولای په میاشت کي د هرات د حکومت چاري او حالات د قناعت وړ نـهٔ ول. کورنی جګړه قریب الوقوع وه او سردار عبدالغفور چي د یعقوب خان د مرستي لپاره په هرات کي پرېښودل سوی وو، د شیرعلي د ماتي د خبر په اورېدلو سره له ۲۵ تنو نورو هراتي اشرافو سره په یوې توطـئي کي بوخت سو چي بارکزي وشړي او حکومت د سدوزیو په لاس کي ورکړي. دا دسیسه خنثی سوه، خو حالات د هرات د پخواني والي د زوی سلطان احمد خان چي د سلطان جان په نوم مشهور وو د توطـئو پر بنسټ لا پیچلي سول. سره له دي چي د یعقوب اقدامات له سختګیریو سره مل ول خو موجوده شرایطو ته د ځواب ویلو لپاره په بشپړه توګه چمتو وو. دهٔ په ۱۸۶۷ز کال کي له مشهد څخه لیدنه وکړه تر څو د فارس له مقاماتو څخه د پام وړ مرسته ترلاسه کړي خو نوموړی په خپلي دي هڅي کي په بشپړه توګه ناکامه سو. د ۱۸۶۷ز کال په لومړیو کي دی په دي بریالی سو چي د خیل پلار په استازیتوب کندهار بېرته ونیسي چي د مخالفي ډلي لاس ته لویدلی وو او مشري ئې اعظم خان کوله. یعقوب خان په دي مناسبت کي پر مخالف ځواک باندي پرېکنده بریا تر لاسه کړه چي قومانده ئې عزیز خان، عمرخان او خوشدل خان کوله. یعقوب خان د خپل د پلار د آرمان په لاره کي ترهغو ثابت قدمه پاتي سو چي پلازمینه ونیول سوه او د شیرعلي په بریا کي د یعقوب خان مرستي ستره ونډه ولوبوله. امیر شیرعلي د ۱۸۶۸ز کال په سپتمبر کي خپل سلطنت بېرته اعاده کړ، له همدي نـېټي دوه اونی وروسته څرګنده سوه چي یعقوب په شدت سره دی ته لـېواله دئ چي د هرات د مسؤولیت د ساتلو ترڅنګ غواړي چي د سلطنت رسمي وارث هم وپېژندل سي. ویل سوي چي اسلم او فتح مـحمد د دي موخي د ترلاسه کولو په لاره کي ورسره مرسته کوله. د کندهار د ولایت د مسؤولیت په چارو کي یو څرګند اختلاف او چاوده رامنځته سوه او امیر د کندهار د چارو مسؤولیت خپل تر ټولو کشري او تر ټولو ګران او غوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

زوی عبدالله جان ته وسپارۀ. هغـۀ خپل ترور زی، سردار شیرعلي چې د عبدالله د مور خپلوان وو مقرر کړ او وئـې پتییله چې د عبدالله تر لوییدو پورې دې د عبدالله پر ځای د چارو مسؤولیت پر غاړه واخلي. په دې پېښې پسې د یعقوب له خوا غوښتن لیک ورسـېدل چې دی باید د ولیعهد په توگه په رسمیت وپـېـژندل سي خو امیر په بـېلابـېلو پلمو دا غوښتنه رد کړه. په دې پسې په ۱۸۶۹ز کال کې د امبالې د کنفرانس موضوع سوه او یعقوب د امیر شیرعلی په غیابت کې د هغـۀ د مرستیال په توگه مشخص واک درلود. د امیر په راستنیدلو سره د یعقوب ټول واکونه پای ته ورسـېدل او یعقوب ته دا خبره سخته تمامـېدله چې هـېـڅ ډول واک ونـۀ لري له همدې کبله ئـې بیا نارضایتیو ته لاس واچاوۀ. په دې پسې د نارضایتی بـېلابـېل دلایل رامنځته سول لکه، یعقوب، امیر شیرعلي ته ئـې وړاندیز وکړچې یا دې دی و ولیعهد په توگه وپـېـژندل سي، او یا دې د هرات او تورکستان او د اړوندو سیمو د حکومت چارې ته ورته وسپارل سي او یا دې کندهار او هرات ورکړل سي او که امیر دې ته چمتو نـۀ وي چې دا غوښتـنې ومني نو دی به هر هغه چـېرته لاړ سي چې دی په خپله په کې خوشحاله وي. امیر د فرصت طلبۍ په موخې د پلازمینې د اداري قسمي چارې یعقوب ته ورسپارلې.  یعقوب ته دا موقعیت تر ډېره دوام ونـۀ کړ. امیر د هرې ورځې په تـېرېـدلو سره هغه تگلوری په برالا څرگنداوۀ چې په پام کې ئـې درلودل یعنی د یعقوب پر ځای ترجیحاً د ولهیعد په توگه د عبدالله جان ټاکل. د حکومتي مقاماتو د ټاکنې موضوع ددې ټکي په پام کې لرلو سره کـېـدلې چې د حکومتي مقاماتو داسې یوه متنفذه بدنه دې رامنځته سي چې عبدالله جان ته په وفادارۍ کې شک ونـۀ لري؛ په پای کې امیر د یعقوب په وجود کې د عدم متابعت نښې ولیدلې او په دې توگه ئـې د ۱۸۷۰ز کال د جولای په میاشت کې له ټولو پوځـي او ملکي صلاحیتونو څخه محروم کړ. راتلونکي میاشت د امیر له ناسکه ورور شریف خان سره د توطـئـو په جوړولو تـېره سوه او په پای کې د سپتمبر د میاشتې په دوهمې نـېټې یعقوب څرگنده بغاوت ته لاس واچاوۀ. یعقوب په همدې ورځ خپل پلویان راټول کړل او خپل کشر ورور ایوب خان ئـې له ۶۰۰ یا ۷۰۰ سپورو، رسمي سرتـېرو او ملیشو سره واخیست او په دې هیلې او موخې د کندهار پر لور وخوځـېـد چې هم به کندهار او هم به هرات دواړه ونیسي. امیر خپله هڅه وکړه چې یعقوب ته ډاډ ورکړي او بـېـرته ئـې کابل ته راوړي خو دا هڅه ناکامه وه. یعقوب ولیدل چې د قلات او د قلات غلزایي دروازې ددۀ پر مخ تړل سوي دي نو په کندهار کې ئـې د خپل بخت په ازمویلو سره اعلان وکړ چې که په کندهار او هرات کې ناکامه سو نو ځان به د فارس غـېـږې ته واچوي. د ۱۸۷۰ز کال د سپتمبر او اکتوبر په میاشتو کې یعقوب کندهار ته نـېـږدې خپله قرارگاه جوړه کړه. یعقوب تر خپل لاس لاندې د بارکزیو او «جدهیانو» [1] (کندهار ته نـېـږدې د یوې قبیلې نوم) ۵۰۰۰ یا ۶۰۰۰ تنه راټول کړل، او د سیمې مالیات ئـې راټول کړل او د خوراکی موادو لارې ئـې قطع کړې او هره ورځ دوه یا درې تنه ورسره له کندهاره یو ځای کـېـدل. په دې پسې په کندهار کې له سرتـېـرو سره نښتې پیل سوې چې پایله ئـې یعقوب ته نامطلوبې وې. د اکتوبر د میاشتې په ۲۰ نـېـټې کله چې یعقوب د کندهار له نیولو نا امیده سو مخ په لویدیځ وتـښـتـېـد. د اکتوبر د میاشتې په ۲۶ نـېـټې یعقوب د گرشک کلا ئـې محاصره کړه خو بـېـرته په شا وتمبول سو او د سیستان په موخه گرمسیل ته په شا سو. امیر د خبرو اترو هڅه وکړه خو کومه بریا او پایله ئـې نـۀ درلوده.  یعقوب په یو نومیدانه موقعیت کې وو او د ۱۸۷۱ز کال د فبرورۍ په میاشت کې مجبور سو چې د فارس قلمرو ته وتښـتـي. خو له دې وروسته یعقوب یو ځل بیا راڅرگند سو او د ۱۸۷۱ز کال د مارچ په میاشت کې ویل کـېـدل چې هرات ته نـېـږدې د غوریانو په نیولو بریالی سوی دئ. د ۱۸۷۱ز کال د اپریل په

---

[1] - Jidhis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مياشت کې د يعقوب ځواک دم په دم مخ په ډېرېدو سو او وتوانيد چې هرات محاصره کړي چې د مې د مياشتې په لومړۍ اونۍ کې هرات د يعقوب لاس ته پرېوت. دغو نتايجو په وضاحت ښودله چې د هرات د قرار گاه اکثريتو افسرانو له مهاجمينو سره لاس يو کړی وو. امير په لومړيو کې له خپل ياغي زوی سره پخلاينه رد کړه خو په پلازمينې کې د يعقوب د پلويانو نفوذ او اغيز په امير باندې راوړل سو او شيرعلي غاړه کښېښودله او خپله پښېماني ئې هر هغه څه چې پېښ سوي ول اعلان کړه. مخکې له دې چې د پلار او زوی تر منځ کوم ترتيبات ونيول سي يوه لنډه موده تېره سوه چې کيدای سوای د دواړو غاړو تر منځ قناعت تر لاسه سي. په پای کې د سپتمبر په مياشت کې په دې توافق وسو چې يعقوب دې بېرته د هرات د والي په توگه لاړ سي خو شرط ئې دا وو چې له يعقوب سره مل بايد يو شمېر مشخص مقامات هم مل وي؛ په واقع کې دا کسان د امير له لوري گومارل سوي کسان ول چې د امر د گټو نظارت وکړي او هم د يعقوب کړۀ وړۀ تر څار لاندې ولري. دغه رسمي مقامات دغه کسان ول : مير آخور احمدخان د نائب والي په توگه او ورسره سردار عبدالله خان وو چې په دې وروستيو کې په هرات کې د امير مأمور وو، او جنرال حفيظ الله خان چې د وسله وال ځواک د قوماندې مسؤوليت ورسپارل سوی وو. په عين وخت کې يعقوب له امير سره ژمنه وکړه چې هرات ته له رسېدو سره سم خپل دوه تنه محرم مأمورين بهادر خان او فقير محمد خان تحت الحفظ کابل ته راواستوي ځکه وئې منله چې همدغه دوه کسان د تيرې اله گولې د پارولو مسؤول کسان دي. په مشخص ډول دغه ډول مرتبات د متداوم ثبات لپاره له اړينو ځانگړتياوو څخه محروم ول. يعقوب له هماغو لومړيو دې پايلې ته رسېدلی وو چې د امير له لوري ټاکل سوي کسان د ولايت په ادارې کې نه بايد حقيقي ونډه ولري. لا نورې بوديجې او پيسو ته اړتيا وه او د ۱۸۷۲ز کال د اپريل په مياشت کې يعقوب امير ته يو پيغام ولېږۀ او له خپل موقعيت څخه ئې خپله نارضايتي څرگنده کړه. د ۱۸۷۲ز کال د جولای په مياشت کې مير آخور احمد خان د يعقوب له کشر ورور ايوب خان او جنرال حفيظ الله خان سره يو ځای کابل ته راغی او امير ئې په هرات کې د چارو له ناراضي موقعيت څخه خبر کړ. په عين حال کې امير د کابل له خزانې څخه د هر ډول مرستې د ورکړې هيله رد کړه او مير آخور له ايوب خان سره يو ځای د ۱۸۷۲ز کال د نوامبر په مياشت کې هرات ته ستون سو. په دې توگه چارې په عام ډول سره په شدت د رضايت وړ نـۀ وې. په کابل کې د يعقوب او د امير د يوۀ مقام تر منځ يو محرم ليک وموندل سو. ۱۸۷۲ز کال مخ په پای ته رسېدو وو په کابل کې خبر ورکړل سو چې يعقوب د جنگي موادو د راټولولو لپاره چمتووالی نيسي او د هرات د هغو رسمي مقاماتو تنخواه ئې ځنډولې چې فکر کېږي د امير پلويان دي. د ۱۸۷۳ز کال ډيره برخه په همدې بڼې تېره سوه.د همدې کال د پای په درشل کې ول چې د امير د ناروغۍ په هکله له مبالغې ډک خبرونه هرات ته ورسېدل؛ راپورونو ويل چې يعقوب خپل سرتېري او ځواکونه د کابل پر لور د مارش په موخې راټول کړي ول. په دې پسې اعلان وسو چې عبدالله جان رسماً وليعهد دئ. له همدې مهاله وروسته يعقوب لا ډېر قاطع موقعيت ونيوۀ او په څرگنده ئې خپل مخالفت اعلان کړ او د جگړې لپاره د مهماتو په راټولولو بوخت سو چې د خپلې مبارزې لپاره مقدمات چمتو کړي. د ۱۸۷۴ز کال د مارچ او اپريل په مياشتو کې له هراته کابل ته دوه پلاوي ورسېدل. په يوۀ پلاوي کې مير آخور احمد خان او په بل کې ئې د هرات مشهور مولويان ول. د يعقوب موخه په دا مهال کې دا وه چې داسې يو هرات د ابد لپاره تر لاسه کړي چې د کابل د مقاماتو مداخله په کې نـۀ وي. امير د دې غوښتنې له ترسره کېدو څخه په بشپړه توگه ډډه وکړه. په عين حال کې د چارو اړخونه او جوانب لا خطرناک او گواښمن کېدل. يعقوب د عبدالله جان د په رسميت پېژندلو لپاره له هر ډول دوديزې لارې څخه ډډه وکړه او د ۱۸۷۴ز کال په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لومړیو څلورو میاشتو کې ئـې ځان د مبارزې لپاره د هر ډول مقدماتو او ترتیباتو په جوړولو بوخت وساتـهٔ. خو د یعقوب موقعیت له نومېدی ډک وو. بودیجه ورته نـهٔ راتله چې د سرتېرو تنخواه ورکړي. د هرات وګړو د سولې او آرامۍ د دورې له تجربه کولو وروسته چې په آرامه ئـې سا ایستله او د سولې په قدر پوه سوي ول نور ئـې نـهٔ غوښتل په نورو اله ګولو کې برخه واخلي؛ او نهایتاً له بلې خوا یعقوب هم داسې کوم لیر لید نـهٔ درلود چې پر بنسټ ئـې د تورکمن یا فارسي مقاماتو څخه مرسته تر لاسه کړي. حالات په همدې لور روان ول چې د غلزیو د قبیلې دوه تنه پیاوړو قومي مشرانو ارسلا خان او عصمت الله خان د ۱۸۷۴ز کال د سپتمبر په میاشت کې د امیر په استازیتوب له هرات څخه لیدنه وکړه ترڅو یعقوب وهڅوي چې له خپل پلار سره په پلازمینې کې ووینې. هرات ته ددغو مشرانو په رسېدو سره څرګنده وه چې یعقوب فلج سوی دئ. د امیر پر وړاندې د مقاومت لپاره یوازینۍ هیله د مهمندو او غلزیو پاڅون وو چې له هرات سره په یوهٔ وخت کې پاڅون وکړي. هرات ته د غلزیو د قومي مشرانو رسېدو چې یعقوب وهڅوي چې له کابله لیدنه وکړي ددغې وروستنۍ هیلې ډیوه مړه کړه. ځکه ددغو قومي مشرانو راتګ په څرګنده په ډاګه کوله چې یعقوب له دې قبیلې څخه نوره کومه مرسته نـهٔ سي تر لاسه کولی. په پای کې یعقوب د ځانګړو شرایطو په وړاندې کولو سره راضي سو چې په پلازمینې کې د خپل پلار له دربار څخه لیدنه وکړي؛ د یعقوب دا شرطونه د امیر په غیاب کې د ارسلا خان او عصمت الله له لوري ومنل سول. د همدې توافق پر بنسټ یعقوب د ۱۸۷۴ز کال د نوامبر په میاشت کې کابل ته ورسېد او معمول تشریفات ورته وسول. چارې د څو ورځو لپاره د کومې پېښې له پېښېدو پرته په آرامه پر مخ تللې خو ډېر ژر کړکیچ رامنځته سو او د نوامبر د میاشتې په ۸ نېټې امیر د خپلو تېرو تجربو او د یعقوب د سرغړونو له توضیح کولو وروسته سره له دې چې یعقوب ته ئـې اجازه ورکړې وه چې پلازمینې ته ننوځي، یعقوب تورن کړ او هغه ئـې په کابل کې تر څارلاندې ونیو، په بله وینا توقیف ئـې کړ. یعقوب خان د سردار یحیی خان له کورنۍ سره د وادهٔ له لارې اړیکه درلوده او د یحیی خان له یوې لور سره ئـې وادهٔ کړی وو. د خپل پلار پر وړاندې د مقاومت په سازماندهي کولو ناتواني ښایي د یعقوب خان د ادارې په بڼه کې د نېمګړتیا او یا د هرات د وګړو په منځ کې د هغـه عدم محبوبیت له کبله نـهٔ وي. بلکه کولی سو هغه په وروستیو کلونو کې د امیر د ځواک او قدرت په ډېرېدو پورې تړلی وګڼو چې په مستمر ډول مخ په ډېرېدو وو. د هرات ګڼ قومیزې ټولنې د سولې او آرامۍ په درک کولو سره وښودله چې غواړي خپل فعالیتونه په سولې او آرامۍ کې تر سره کړي. برسیره پر دې، هراتیانو ولیدل چې د امیر قدرت او ځواک هره ورځ مخ په ډېرېدو او پراخېدو دئ او مخالفت ورسره په طبیعي ډول ناشونی دئ؛ له بل لوري د مقاومت د هڅو د ملاتړ لپاره د بودیجې د بشپړ نشتوالي له امله وضعیت لا نور هم خراب سو. سر آر. پالک په ۱۸۷۳ز کال کې د یعقوب خان په اړه لیکي : «د امیر او د هغـهٔ تر ټولو وړ او لایق زوی تر منځ د سؤ تفاهم د شتون دلایل په لاندې ډول دي : ⁽۱⁾ ددهٔ مور درانۍ نـهٔ ده ⁽ددهٔ موردرانۍ پټهانه/ پښتـنه د لالپورې د سعادت خان لور وه⁾ او دا ددې لامل کېږي چې د نورو له پامه وغورځېږي. ⁽۲⁾ د اعظم خان له خوا په قلات غلزايي کې له ماتې وروسته شیرعلي هرات ته ستون سو چې په سیمه ییزو چارواکو باندې مالیات وضع کړي ځکه د هغـهٔ په باور دوی د خپلو پوستونو له کبله شتمنې ټوله کړې ده. هرګوره، یعقوب د دې اقدام مخالفت وکړ او موخه ئـې د خپلو ماتحتانو د وفادارۍ ساتل او په اوږد مهال کې د دا ډول کړنو د ناوړو پایلو په پام کې نیول ول. د ا مخالفت چې له شخړو سره یو ځای رامنځته سو، هغه اختلاف پیل کړ چې د پلار او زوی تر منځ رامنځته سوی وو.» یعقوب خان د ۱۸۷۸ز کال د ډسمبر د میاشتې تر پای پورې په زندان کې پاتې سو، دا هغه نېټه ده چې شیرعلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تورکستان ته لاړ او يعقوب ئـي د کابل د مسؤول په توګه مقرر کړ. د هندوستان حکومت يو ناڅاپه د سولي د ټينګولو لپاره له يعقوب خان سره په خبرو اترو بوخت سو. هر څومره چي شير علي نـېږدي وو يعقوب د نا مطمـئن توب احساس کاوۀ؛ خو کله چي کابل ته د شيرعلي خان د جدي ناروغی او د ۱۸۷۹ز کال د فبروری په ۲ نـېټي د هغـۀ د مړيني خبر کابل ته ورسېـد، يعقوب يو ناڅاپه جګړن کيوناري ته چي هغه وخت په جلال آباد کي وو د ملګرتوب په الفاظو ډک يو ليک ولـېږۀ. له دې ليک وروسته خبرو اترو په متداوم ډول دوام وموند. شخصاً يعقوب په ګندمک کي د برتانويانو قرارګاه ته ورغی او د ۱۸۷۹ز کال د مي د مياشتي په ۲۶ نـېټي ئـي هغه تړون لاسليک کړ چي د ګندمک د تړون په نوم ياد سو. ددې تړون پر بنسټ د سر لويس کيوناري په مشرۍ برتانوي ډيپلوماتيک مأموريت مخ پر کابل وخوځېـد او په بالا حصار کي ورته ځای ورکړل سو. د ۱۸۷۹ز کال د سپتمبر د مياشتي تر ۳ نـېټي پورې هر څخه په آرامه او په مقنع ډول پر مخ روان ول او په همدې نـېټي څو پوځي باغي کنډکونو د برتانيي په ډيپلوماتيک مأموريت بريد وکړ او ددې مأموريت له څو تـنو بومي کارکوونکو پرته ددې مأموريت ټول غړي ئـي قتل عام کړل. يعقوب د خپل تأسف او تأثر په ښودلو سره او د برتانيي د مرستي په غوښتلو سره وښودله چي په بشپړ ډول ناتوانه دئ. خو د راوروسته پېښنو له وقوع څخه په څرګنده په ډاګه سوه چي د يعقوب دا ډول تظاهر يوازې مصنوعي تظاهر او مکر وو او يعقوب هيله لرله چي انګليسان به بـېرته راستانـۀ سي. کله چي برتانوي سرتـېري د سر. اف. رابرتس تر مشرۍ لاندې ورسـېدل يعقوب له يوې بې ګټي کوښښ وروروسته هڅه وکړه چي برتانويان کابل ته نـېږدې متوقف کړي او همدا وو چي په خپله د برتانوي لښکر قرارګاه ته ورغی او اعلان ئـي وکړ چي په داوطلبانه ډول له سلطنت څخه لاس اخلي... يعقوب ته اجازه ورکړل سوه چي همداسي وکړي، او د ۱۸۷۹ز کال د اکتوبر په ۲۸ نـېټي د افغانستان په پای کي په ټول افغانستان کي د لاندنی اعلاميي په خپرېدو سره د هېـواد کنترول او واګي د برتانويانو لاس ته ولوېـدلي : «زه جنرال رابرتس، د برتانوي حکومت په استازيتوب په دې وسيلي اعلان کوم چي چي امير له سلطنت څخه په داوطلبانه توګه لاس په سر سوی دئ، او افغانستان ئـي بې حکومته پرېښود. د برتانيي پر ډيپلوماتيک استازيتوب او ورسره مل پرسونل باندې د له شرمه ډک بريد په پايله کي د برتانيي حکومت مجبور سو چي د وسله وال ځواک له لارې کابل ونيسي او د افغانستان په نورو برخو کي نظامي حضور ومومي. اوس د برتانيي حکومت دستور ورکوي چي ټول افغان مقامات، قومي رئـيسان او مشران او سرداران دې خپلو دندو ته دوام ورکړي چي نظم او امنيت وساتل سي او که ضرور وي نو ما ته دې مراجعه وکړي. د برتانيي حکومت هيله من دئ چي له خلکو سره دې په عدالت او خير غوښتـني چلند وسي او د خلکو مذهبي احساساتو او دودونو ته دې درناوی وسي. د نظم او د امن د ساتلو په لاره کي د ټولو قومي مشرانو او سردارانو خدمات به په رسميت وپـېژندل سي او هغه کسان به له مجازاتو سره مخامخ سي چي سوله له منځه وړي اوګډوډي جوړوي او هغو کسانو ته به شديدې سزاګاني ورکړل سي چي په برتانوي مقاماتو باندې ئـي بريد کړی دئ. له کليدي سردارانو، قومي رئـيسانو او نورو هغو متنفذينو سره چي د ښارونو او ولايتونو استازيتوب کوي له سلا مشورې وروسته د برتانيي حکومت به يوه اعلاميه صادره کړي چي د خلکو لپاره د راتلونکي اغيزمني دايمي اداري د جوړلولو لپاره خپله برنامه او مرتبات اعلان کړي.» هندوستان ته د يعقوب خان د لـېږلو لپاره مرتبات ونيول سول. يعقوب خان د ۱۸۷۹ز کال د ډسمبر د مياشتي په لومړۍ نـېټي د «ټورن ترنر»[2] تر مسؤوليت او د

[2] - Captain Turner


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

پنجاب د دوهم پلي ځواک په بدرګه توب او د «نواب سر غلام حسين خان د زوی حافظ عبدالله خان» [3] په ملتيا له کابله ووت. يعقوب خان د خپل تبعيد کېدلو په هکله هېڅ ډول اعتراض ونـهٔ ښود برعکس داسې ښکارېدل چې نوموړی په دې خبرې خوښ وو چې له هېواده وځي او تګ ئـې د خلکو له انظارو پټ وو. د نهم نيزه وال ځواک يو بلوک او د بومي سپارهٔ ځواک يو ډلګی تر بتخاک پورې د يعقوب خان بدرګه وو؛ په بتخاک کې د سپارهٔ ځواک يوې ډلې ته وسپارل سو او په بله ورځ ئـې لته بند ته ورسېد. له لته بند وروسته پخوانی امير د وسله وال ځواک د ګډو ځواکونو د دريو ډلو په ملتيا جګدلک ته واستول سو او په بله ورځ ئـې د وسله وال ځواک د کوچنې ډلې په ملتيا ګندمک ته واستول سو. د ډسمبر د مياشتې په څلورمې نېټې جلال آباد ته ورسېد. په شپږمې نـېټې ډکې ته او په اوومې نـېټې لنډي کوتل او په اتمې نـېټې پېښور ته ولـېږدول سو؛ په پېښـور کې د وسله وال ځواک عمومي بولندوی ته لاربښوونه وسوه چې ددهٔ د منلو / پذيرايي او مخ پروړاندې ترانزيت لپاره دې آسانتياوې برابرې کړي. د ۱۸۷۹ز کال د ډسمبر د مياشتې په لسمې نـېټې پخوانی امير د بدرګه پوليسو د يوې ډلې په ملتيا چې سيمه ييزو مقاماتو برابر کړي ول «مريوت» [4] ته ورسېد. دی د دسمبر د مياشتې په ۱۴ نـېټې په خونډي توګه ورسېد. د پخواني امير په ډلې کې ۱۴ تنه ول خو دا شمېـر د ۱۸۸۰ز کال د آګست په مياشت کې له افغانستان څخه د خلکو په رارسېـدو سره ډېـر سو او په دې توګه وو : څلور مېـرمنې، دوه زامن، دوه لورګانې، د حرم ۸ غړي، ۴ ښځينه خدمې، محمد شريف سره له خپل وراره او په فرزندي اخيستل سويو زامنو عبدالکريم او نورلي او د هغـهٔ ماشومان، ډګروال نواب خان او تقريباً ۴۰ مينځې نجونې چې د ټولو شمېـر ۷۰ تنو ته رسېـد.

## نور بيا

# محمد يعقوب خان

اڅکزی. د کندهار د ولايت د سويلي سرحد، سرحدي افسر. چې د...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[3] - Hafiz Abdullah Khan, son of Nawab Sir Ghulam Husain Khan

[4] - Meerut



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ